اې هلکه، زه تا ته څو خبرې درښايم: الله په یاد لره، هغه به ستا ساتنه وکړي، الله په یاد لره، هغه به دې په وړاندې ومومې، کله دې چې څه غوښتل نو له الله څخه یې وغواړه، او کله دې چې مرسته غوښتله، نو له الله نه یې وغواړه

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي چې: زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره شاته په سپرلۍ سپور وم نو ویې ویيل:« اې هلکه، زه تا ته څو خبرې درښايم: الله په یاد لره، هغه به ستا ساتنه وکړي، الله په یاد لره، هغه به دې په وړاندې ومومې، کله دې چې څه غوښتل نو له الله څخه یې وغواړه، او کله دې چې مرسته غوښتله، نو له الله نه یې وغواړه او پوهه شه چې: که دا ټول خلک راغونډ شي تر څو تاته د څه ګټه درورسوي، نو هغوی به تاته هیڅ ګټه و نه رسوي پرته له هغې چې الله درته لیکلی وي، او که دوی راغونډ شي تر څو تاته یو څه ضرر دورسوي، نو هیڅ ضرر به در ونه رسوي له هغه پرته چې الله تعالى درته لیکلي وي. قلمونه پورته شوي او کاغذونه وچ شوي دي».

[صحيح دی] [الترمذي روایت کړی دی]

ابن عباس رضي الله عنهما خبر ورکوي چې هغه کوچنی و او د رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې شاته په سپرلۍ ناست و، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وویل: زه تاته یو څه کارونه او شیان درښایم چې الله تعالى به پرې ګټه دروسوي: الله - تعالى - په یاد لره د هغه د اوامرو په ساتلو او له منهیاتو څخه یې په ځان ژغورلو سره، داسې چې په اطاعت او عبادت کې دې ومومي او په نافرمانۍ او ګناهونو کې دې ونه مومي، که چېرته دې داسې وکړل، نو بدل به دې دا وي چې الله تعالى به دې د دنیا او آخرت له سختیو وساتي او په هر ځای کې چې یې نو په چارو کې به دې درسره مرسته وکړي. او کله دې چې څه غوښتل نو یوازې له الله جل جلاله یې وغواړه، ځکه یوازې هغه - ذات دی چې - سوال کوونکو ته ځواب ورکوي (دعا یې قبلوي). او که مرسته غواړې نو یوازې له الله تعالى نه مرسته وغواړه. او باید دا باور ولرې چې که د ځمکې ټول خلک تاته د ګټې رسولو لپاره راغونډ شي، تاته هیڅ ګټه لاسته نه درځي مګر هغه چې الله - جل جلاله - درته لیکلې ده، او که د ځمکې ټول خلک تاته د ضرر رسولو لپاره راغونډ شي، نو تاته به هیڅ ضرر ونه رسیږي مګر هغه چې الله تعالى درته لیکلی دی. او دا چې دا کار د الله پاک لخوا د هغه د حکمت او پوهې له مخې ټاکل شوی دی، او د الله جل جلاله حکم لره هیڅ بدلون نشته.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4811